روزل شوي نسل
نیکمرغه افغانستان

هفته نامه
# معارف
اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه
سال تاسیس ۱۳۸۱ شماره مسلسل ۲۰۹ ماه حمل سال ۱۳۹۶

## پلان های سال ۱۳۹۶ وزارت معارف

۱- جذب بیش از یک میلیون شاگرد جدید الشمول که ۴۳٪ آنرا اناث تشکیل می دهد. از این تعداد ۹۵۰ هزار در برنامه تعلیمات عمومی، ۵۷ هزار در برنامه تعلیمات اسلامی، ۲۵ هزار در برنامه تربیه معلم و ۴۷ هزار در برنامه تعلیمات تخنیکی و ...

صفحه۲

## دست آورد های وزارت معارف طی سال ۱۳۹۵

سکتور تعلیم و تربیه دولت جمهوری اسلامی افغانستان یکی از موفق ترین سکتورها به سطح دولت بوده که طی سالیان متمادی با تهیه و تطبیق پلان های ستراتیژیک مشخص به موفقیت های چشمگیری نایل آمده است...

صفحه ۴

# د ۱۳۹۶ ښوونیز کال د پیل په مناسبت د پوهنې د وزیر پیغام



خوښ یم، چې د نوي ۱۳۹۶ ښوونیز کاَل د رارسېدو په مناسبت د پوهنې وزارت د مشرتابه پلاوي په استازيتوب د افغانستان ټولو خلکو په ځانګړي ډول درنو ښوونکو او ګرانو زده کوونکو ته مبارکي وایم.

ښوونه او روزنه د یو هېواد د ترقۍ او پرمختګ تر ټولو مهم او اساسي بنسټونه تشکلیوي، او له یوه پرمختللي او معیاري ښوونیز نظام پرته هېڅ ټولنه نشي کولای د وخت غوښتنې پوره او د پرمختګ لوړو پوړیو ته ځان ورسوي.

هر کله چې ښوونیز نظام د اسلام د مقدس دین د احکامو او د ملي ارزښتونو پر بنسټ ولاړ وي او ځوانان پر پرمختللیو علومو او معاصرې ټکنالوژۍ سمبالوي، له شک پرته کولای شو، چې پر ټولو اقتصادي، ټولنیزو او نورو ستونزو برلاسي شو او ټولنه د ځان بسیاینې او پرمختګ پر لور بوځو.

د افغانستان د پوهنې وزارت یادو موخو ته د رسېدو لپاره تل د اسلامي اصولو او افغاني ارزښتونو په پام کې نیولو او د علمي او اکاډمیکو معیارونو پر بنسټ ګړندۍ هڅې کړې، او په نوي ښوونیز کاَل کې هم د خپلو منظمو پروګرامونو پر مټ هڅه کوي، چې افغان ماشومان باکیفیته او معیاري ښوونیزو اسانتیاو ته له هرې ممکنې لارې لاسرسی پیدا کړي.

په ویاړ سره ویلی شو، چې اوسمهال په ټول...

۲ مخ

## ولسمشر په لوګر کې د یوه ښوونځي د جوړولو لپاره نغدي مرسته وکړه

ولسمشر محمد اشرف غني د لوګر په محمدآغې ولسوالۍ کې د یوه ښوونځي د جوړولو لپاره د ۲۸ زره امریکایي ډالرو نغدي مرسته وکړه .

دغه مرسته د جمهوري ریاست د پارلماني چارو رییس ضیا احمد عبدالرحمیزي په داسې حال کې چې په ملي شورا کې د دغه ولایت استازو محمد اکبر ستانکزي او انجنیر صاحب خان هم حضور درلود ددې ولایت د پوهنې رییس انجنیر محمد اکبر ستانکزي ته وسپارله .

د ولسمشر په یاده نغدي مرسته به د شهید محمد سلیم لعل ستانکزي ښوونځي ته، چې د محمدآغې ولسوالۍ د اصحاب بابا په ښارګوټي کې موقعیت لري، نوې ودانۍ جوړه شي.

## په پکتیکا کې دتړل شویو ښوونځیو دپرانیستې په موخه غونډه جوړه شوه

د کتواز دیني عالمانو، قومي مشرانو او ځوانانو له خوا د تړلو ښوونځیو د خلاصولو له پاره ځانګړي کمېټه جوړه کړه:



په هغه غونډه کې چې دپکتیکا والي او پوهنې سرپرست رئیسّ په ګډون د یوسف خیلو، زرغون شهر، یحی خیلو، جاني خیلو او خوشامند ولسوالیو دیني عالمانو، قومي مشرانو اوځوانانو له خوا جوړه شوی وه دپکتیکا والی د تړلو ښوونځیو په اړه خبرې اترې وکړې چې په غونډه کې شاملو قومي مشرانو ژمنه وکړه چې د پکتیکا تړلو ښوونځیو دروازې به پرانیزي، مشرانو وویل ولایتي اداره دې د پوهنې بهیر پیاوړتیا ته پاملرنه ډیره کړي، دوی وویل د پکتیکا ولسونه اوس ویښ شوي دي هیچاته به اجازه ورنکړي چې د دوی ماشومان له زده کړې څخه بې برخې کړي.

د لوی کتواز دیني عالمانو ډاډ څرګندکړ چې په ټول توان سره به هڅه وکړي چې د کتواز په سیمه کې د بندو ښوونځیو دروازې د زده کوونکو پرمخ خلاصې کړي.

قومي مشرانو زیاته کړه چې د کتواز ولسونه د خپلې سیمه ییزو او لایتي ادراي سره همکار دي او د امنیتي ځواکونو سره اوږه په اوږه د امنیت د ښه والي لپاره کار کوي،مشرانو ژمنه وکړه چې د سولې لپاره د زړه له کومې هڅې کوي او په وسلوالو مخالفینو یې غږ وکړ چې له ورانکارو کړنو څخه لاس واخلې او د خپل اسلامي جمهوري دولت ملا وتړي.

وروسته د پکتیکا د پوهنې سرپرست رئیس...

۲ مخ

## دپوهنې له روان بهیر څخه ولسي ملاتړ

۲ مخ

## راتلونکی کال د لوګر په ښوونیزو مرکزونو کې ۳۱ زره نوي زده کوونکي جذبیږي

د لوګر د پوهنې ریاست د راتلونکي ۱۳۹۶ ښوونیز کال لپاره په خپلو ۳۰۷ تعلیمي مرکزونو کې ۳۱۷۵۰ تنه نوي زده کوونکي جذبوي.

دغه نوي زده کوونکي به د عمومي، اسلامي، تخنیکي او مسلکي، د ښوونکو د روزنې او سواد زده کړو په تعلیمي مرکزونوکې جذب شي.

د یادو زده کوونکو له ډلې ۲۰۴۰۰ تنه د عمومي زده کړو، ۸۴۰ تنه د اسلامي، ۷۹۰ تنه د تخنیکي او مسلکي، ۹۲۰ تنه د ښوونکو د روزنې او ۸۸۰۰ تنه نور د سواد زده کړو مرکزونو کې جذبیږي.



د لوګرد پوهنې ریاست اوسمهال په خپلو ټولو تعلیمي مرکزونو کې د نویو زده کوونکو د شاملولو لړۍ پیل کړې او لاهم جریان لري.

د لوګر د پوهنې مسوولینو له ټولو پلرونو او میندو غوښتي، چې د ښوونځي په عمر برابر خپل ماشومان د خپلو سیمو په نژدې...

۲ مخ

## ورکشاپ آموزشی ارتقای ظرفیت برای کارمندان معارف ولایت بغلان تدویر گردید

ورکشاپ آموزشی ارتقای ظرفیت حفظ ملکیت ها وجایداد های معارف ولایت بغلان ازطرف مدیریت ارتقاء ظرفیت ریاست معارف آن ولایت به کمک مالی موسسه GIZ در لیسه نسوان معدن تدویر گردید در این ورکشاپ آمرین مکاتب ولسوالی ها ومرکز پلخمری اشتراک نموده بودند .ورکشاپ با تلاوت آیاتی از...

صفحه۲

## بخش متقاعدین وزارت معارف دیجیتالی شد

در محفلی که به مناسبت افتتاح سیستم دیجیتال بخش کارمندان متقاعد وزارت معارف برگزار شده بود، محترم خالد ارشد رییس عمومی انکشاف منابع بشری در حالی که محترم کبیر ولی رییس استخدام آن ریاست و شماری از کارمندان وزارت معارف نیز اشتراک داشتند، تبدیل سیستم کهنه تقاعد را به سیستم جدید دیجیتالی یک گام مثبت در عرصه خدمت رسانی...

صفحه ۴

**رهبری وزارت معارف سال نو تعلیمی را به استادان محترم، شاگردان عزیز و کافهٔ ملت غیور افغانستان تبریک و تهنیت میگوید**

سرمقاله:

# نسیم بهاری خفته دلان را بیدار می سازد

بهار فرامیرسد، چرخ تقویم الهی کماکان به مسیرش ادامه میدهد و کار نامه ها و مظالم شب های سرد و تار زمستان را که زندگی بشریت را به گروگان گرفته به دادگاه عدل و انصاف بهاری می کشد

محکمه عدل و انصاف دایر می گردد و جبرو ستم زمستانی هرگز دیگر نخواهد توانست در برابر شعله های گرم و زند گی بخش بهار استادگی نمایند و زندگی را در اسارت خود نگهدارد.

بلی! نوروز بار بار میرسد و زندگی ادامه پیدا میکند و آنانیکه در مقابل جبر زمان استادگی می نمایند و به روز رستاخیز و عدالت ایمان ندارند به کیفر خواهند رسید. نوروز آغازین روز سال خورشیدی است، نوروز روز اعتدال و برابریست، روز رستاخیز در برابر ظلم و بی عدالتی ، روز نواختن زنگ مکتب و مدرسه و آغاز یک زندگی نو. شعله های گرم خورشید به قلب تخمه های خود کاشته طبیعت راه خواهد یافت و یک بار دیگر میلیون ها نوع نبات و حیوانان و بخصوص پرنفوس ترین کلاس آن (حشرات) که از مظالم زمستان در بی هوشی به سر برده اند. و به خواب زمستانی رفته اند دوباره بیدار و به هستی، زیبایی و یک نمایش حیرت انگیز و سحر آمیز قدرت و معرفت الهی ادامه خواهد داد.

نوروز روز اول بهار است در کشور عزیز افغانستان از قدیم الایام از آریانا و خراسان، از زمانه های دور، تا اکنون منحیث یک سرآغاز فصل جدید ، فصل کشت وکار، فصل فراوانی، زیبایی طبیعت و بر خورداری تجلیل بعمل می آید و امروز هم به آن ارج قایل هستند، مردم ما درین ایام به دشت و صحرا میروند و سبزه کوبی میکنند، نوروز را با دادن نظر ها و خیرات و آماده کردن هفت میوه و هفت سبزی گرامی می دارند، جنده سخی شاه اولیا و مندوی های شهر ها که نمادی از خیر و برکت پنداشته می شود بر افراشته می شود، دهقانان نیز به آغاز میله دهقان فصل جدید کشت و زراعت را آغاز می نمایند و به امید بدست آوردن حاصلات خوب و فراوان در آبادی و سر سبزی به کشور شان کار و عرق ریزی می پردازند و از بهار و تابستان که فرصت خوب برای بدست آوردن توشه دنیا و اخرت است استفاده اعظمی مینمایند. این فصل زندگی بخش، معجوبه عجیب زندگی و حیات را با اهدا هزاران نوع غذا ها و لذایز زندگی، فن، عبرت و معرفت برای نوع بشر به نمایش میگذارد و آنانی که با داشتن چشم بصیرت به نظاره نشسته اند با سرو سامان دادن زندگی دنیوی و معنوی خود بر سکوی پیروزی های والا نایل می گردند. شاگردان عزیز معارف استادان جلیل القدر، مربیون نسل جوان برشماست تا با الهام ازین فصل زندگی آفرین با آراستن خود، فامیل، خانواده، اطفال نازنین و جوانان کشور کمر همت ببندید، و کشور خود را با کاروان تمدن بشری با برداشتن قدم های استوار و متین و ایجاد فضای سالم تعلیمی و تربیتی همگام بسازید و نگذارید دشمنان کشور عزیز مان افغانستان باشد در ساختن دروازه های علم و معرفت به آروز های شوم خود دست یابند و با آلام مردم بیفزاید.

د لومړي مخ پاتي

## پلان های سال ۱۳۹۶...

مسلکی شامل می باشد. ۲-فراهم سازی زمینه های برنامه های سواد آموزی و حرفه برای ۶۰۰ هزار سواد آموز که حدود ۶۰٪آنرا اناث تشکیل می دهد. ۳-تاسیس ۴۱۴ باب مرکز تعلیمی جدید، ارتقای ۴۰۰ باب مکتب از ابتدائیه به متوسطه و ارتقای ۲۸۰ باب مکتب از متوسطه به لیسه ارتقا می نماید. ۴-اعمار ۲ هزار صنف درسی جدید از طریق بودجه انکشافی اختیاری.
۵-تهیه طرح جامع برنامه ریزی منابع سازمانی ( Enterprise Resource Planning System). ۶-تطبیق و اجرای برنامه چاپ و توزیع کتب درسی مکاتب از طریق سکتور خصوصی.

۷-استخدام افراد مسلکی و شایسته از طریق برنامه CBR بمنظور بلند بردن کیفیت مدیریتی سیستم معارف.

۸-تکمیل برنامه ریفورم و تجدید نظر ساختار تشکیلاتی وزارت معارف مبتنی بر نتیجه. ۹-انکشاف مهارت های خوانش برای دوره اصول صنفی (صنوف ۱ الی ۳). ۱۰-فراهم نمودن استندردهای حداقلی تعلیم و تربیه از طریق برنامه میثاق شهروندی برای اطفال کشور. ۱۱-توسعه سیستم استاد - شاگردی برای برنامه تعلیمات تخنیکی و مسلکی و تطبیق مرحله دوم آن در ولایات کابل و بلخ. ۱۲-تصویری نمودن نصاب تعلیمی و انکشاف اموزش های سمعی و بصری. ۱۳-ترتیب پالیسی جامع تعلیم و تربیه در حالات اضطرار و انکشاف پالیسی تعلیم و تربیه دختران. ۱۴-استخدام ۱۰ هزار معلم اناث در مناطق محروم و دور دست بمنظور فراهم نمودن زمینه های تعلیم و تربیه بهتر برای شاگردان اناث از طریق برنامه ملی دارای اولویت توانمند سازی اقتصادی زنان. ۱۵-اجرای عملی برنامه ارتقای ظرفیت کارمندان وزارت معارف تا سطح ماستری در همکاری و تفاهم با وزارت تحصیلات عالی.

د لومړي مخ پاتي

## د ۱۳۹۶ ښوونيز کال...

هېواد کې شاوخوا ۹،۲۴ میلیونه زده کوونکي، چې ۴۰ سلنه يې نجونې دي په ۱۷ زره او ۴ سوه ښوونيزو مرکزونو کې د ۱۹۵ زره ښوونکو لخوا، چې ۳۰ سلنه يې مېرمنې دي، پر زده کړو بوخت دي.

د افغانستان د پوهنې وزارت دغه راز ژمن دی، چې د هېواد د ښوونيز نظام د کمي او کيفي سطحې د لوړولو په موخه په ۱۳۹۶ ښوونيز کال کې لاندې فعاليتونه او پروګرامونه عملي کړي:

- د څه باندې يو میلیون نويو زده کوونکو، چې ۴۳ سلنه به يې نجونې وي جذبول.
- د ۶۰۰ زره کسانو لپاره، چې ۶۰ سلنه به يې مېرمنې وي، د حرفې او سواد زده کړو پروګرامونو چمتو کول.
- د ۴۱۴ بابه نويو ښوونيزو مرکزونه تاسيس، ۴۰۰ ابتدايه ښوونځي متوسطې او ۲۸۰ بابه متوسطه ښوونځي لېسې دورې ته لوړول.
- د ۲ زره نويو درسي ټولګيو جوړول.
- د ۴۹ میلیونه جلده درسي کتابونو چاپ او وېش.
- د ريفورم پروسې بشپړول، پر تشکيلاتي چوکاټ بيا کتنه او د CBR پروسې له لارې د وړ او مسلکي کسانو ګمارل.
- په لرې پرتو سيمو کې د ۱۰ زره ښځينه ښوونکو ګمارل او د لوړو زده کړو وزارت په همکارۍ د ماسټرۍ تر کچې د کارکوونکو د ظرفيتونو لوړول.

خو د يادو ټولو پروګرامونو له پلي کېدو سره په هېڅ ډول د ښوونې او روزنې په برخه کې د ټولنې ورځنۍ غوښتنې نه شي پوره کېدای او پوهنې وزارت يې هم کافي نه بولي.

د افغانستان د پوهنې وزارت رهبري باور لري، چې د لوی خدای (ج) په مرسته او د افغانستان د علم دوسته خلکو او دولت د ملاتړ او پاملرنې له امله کولای شو، چې ددې وزارت د پلان شويو پروګرامونو او فعاليتونو په ځانګړي ډول د نوي ستراتيژيك پلان په پلي کولو، چې د اساسي قانون د مفاداتو، د اسلام د مبارك دين د اصولو او ملي ارزښتونو په رڼا کې ترتيب او جوړ شوی، بريالي شو او له مخې يې په ټول هېواد کې د پوهنې يو متوازن نظام د پياوړتيا او پراختيا اسانتياوې برابرې کړو.

په پای کې يو ځل بيا د نوي ښوونيز کاَل د پيل مبارکي ټولو ښوونکو او زده کوونکو ته وايم او هيله من يم، چې ټول په ګډه د پوهنې نظام په پياوړتيا او پراختيا کې خپله ونډه ادا کړو او هېواد ته د تلپاتې سولې په راتلو کې له يو بل سره مرسته او همکاري وکړو.

دغه راز له درنو ښوونکو غواړم، چې د هېواد د بچيانو په روزلو کې جدي هلې ځلې وکړي او خپلو ديني او ملي مسووليتونو ته کلکه پاملرنه وکړي.

د لومړي مخ پاتي

## راتلونکی کال د...

ښوونځيو کې شامل کړي.

د يو بل خبر له مخې د لوګر ولايت د بره کي برك ولسوالۍ د اړوندو ښوونځيو ۱۰۰ تنو ښوونکو ته د وړتيا لوړونې پنځه ورځنۍ ورکشاپ پيل شو.

دغه ورکشاپ د نومورې ولسوالۍ د پوهنې آمريت جوړ کړی، چې روزنکي يې هم د همدې ولسوالۍ د تعليمي نظارت غړي دي.

په دغه ورکشاپ کې ښوونکي په اکاډميك او ميتوديكو برخو کې روزنه ويني، څو په خپلو اړوندو رشتو کې لا زيات ورزل شي او له ميتودونو څخه د زده کړې په بهير کې کار واخلي.

د يادونې وړده،چې له دې مخکې هم د لوګر د مرکز، محمدآغې، څرخ او خوشي ولسواليو ښوونکو ته ورته ورکشاپونه جوړ شوي دي.

د لومړي مخ پاتي

## دپوهنې له روان...

دپکتيکا ولايت ديحيی خيل ولسوالی اړوند دشهيد شامحمود منځنې ښوونځي دنجونو دځانګې لپاره د ولس په همکاری (۸) ټولګيزه ودانی ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه . دغه ودانی چې ۸ درسي خونې، ۲ اداري خونې او د احاطې د ديوالونو جوړيدل په کې شامل وو ديحيی خيلو ولسوالی اړوند دمټاخيل کلي دخلکو په مالي مرسته جوړه شوې چې شاوخوا ۲ ميليونه افغانی لګښت پرې راغلی دی. دپکتيکا ولايت دپوهنې رياست د مټاخيلو کلي د مشرانو د دغه غوره او ارزښتناك خدمت درناوی او مننه کوي او د پکتيکا په ټول غيرتي ولس غږ کوي چې د نجونو د زده کړې په برخه کې له موږسره اوږه په اوږه کار وکړي ترڅو وکولای شو دغه له تعليم څخه محرم قشر ته غوره خدمتونه وړاندې کړو.

بقیه صفحه اول

## ورکشاپ آموزشی ارتقای...

قرآن عظیم الشان آغاز گردیده متعاقبا محترم غلام محی الدین پیکان حیدری رئیس معارف بغلان پیرامون حفظ ومراقبت ملکیت ها وجایداد های معارف صحبت همه جانبه نمودند وتدویر همچو ورکشاپ ها را در جهت ارتقای ظرفیت کارمندان ریاست معارف مؤثر دانست موصوف افزود که نهاد ها و مؤسسات تعلیمی و تربیتی سرمایه ملی و مال ملت افغانستان است و حراست و باسداری از آن نه تنها وظیفه کارمندان و منسوبان معارف پنداشته می شود بلکی تمام هموطنان وطن دوست معارف پرور ما مکلفند تا از مکاتب، مدارس و اساکن معارف که مهد پرورش اطفال و آینده سازان وطن است حفاظف نموده نگذارند به حریم معارف آسیب برسد

د لومړي مخ پاتي

## په پکتيکا کې دتړل...

محمد نسيم واجد وويل: د پوهنې په برخه کې يې د بيلابيلو ولسواليو ستونزې اوريدلي او ډير ژر به يې د حل په برخه کې اقدام وکړي.

د پکتيکا والي محمد الياس وحدت وويل: د پوهنې پرمختګ او د تړلو ښوونځيو خلاصون يې په کارې لومړيتوبونو کې دی،تاسو څه موده مخکې هم د زرغون شهر ولسوالی کې د تړلو ښوونځيو د خلاصون په اړه د يوې پراخې غونډې شاهدان ياست، ښاغلي وحدت په خپلو خبرو کې تړلي ښوونځي د راتلونکي نسل د وژنې په مانا وبلله، او په دې اړه يې له قومي مشرانو سره خبرې کړې او هغوی ډاډ ورکړی چې ډير ژر به هغه ښوونځي خلاص کړي چې له تيرو څو کلونو راهيسې تړلي وو، ښاغلي وحدت د کتواز په مشرانو غږ وکړ چې د تړلو ښوونځيو په خلاصون کې هڅې زياتې کړي او د ولايتي اداري لخوا يې د پوره همکارۍ ډاډ ورکړ.

دغه راز ښاغلي وحدت د کتواز د خلکو همکاري وستايله چې تل يې د خپلې سيمه ييزې او ولايتي اداري سره کړېده. ښاغلي وحدت زياته کړه: د يوسف خيلو ولسوالی د خلکو د قربانيو پايله ده چې نن ټولنيز انکشاف، روغتيايي خدمتونو او د پوهنې بهير پياوړتيا ته يې زمينه برابره کړې ده.

هڅه کوم چې په ادارو کې سمون او بدلون رامينځته کړم هيله ده چې تاسو به زما له راتګ سره سم ځينې مثبت بدلونونه حس کړي وي. له ديني عالمانو،قومي مشرانو او مدني فعالانو څخه مننه کوم چې د سولې له روان بهير څخه يې په کلکه ملاتړ کړی دی.

د غونډې په پای کې دکتواز ديني عالمانو، قومي مشرانو او ځوانانو د تړلو ښوونځيو د خلاصون لپاره ځانګړې کميټه جوړه کړه او د کميټې غړو د پکتيکا والي ته ډاډ ورکړ چې ډير ژر به د تړلو ښوونځيو د خلاصون زيری ورکړي.

# بهار آمد بهار آمد، سلام آورد مستان را    از آن پیغمبر خوبان پیام آورد مستان را

## پسرلی

ګـل بـه شـي غـاټول بـه شـي پسـرلی بـه شـي
پیغلې بـه خنـدا کـړي مازیګر بـه شي ګـودر بـه شي
ټـول ځوانـان بـه بیـا پـه یـو ټـولګی سره راجمع شي
خندا او خوشحالي به شي، هنر بـه شي، اختر بـه شي
ټول ځوانان به بیرته خپل هیواد ته ځي جوړښت بـه وي
امـن بـه شـي سـوله د کابـل او ده خیبـر بـه شـي

رالیږونکی: جواد

## نوروز

تـا یـار مددګاراست نـوروز مبـارک بـاد
تـا سـبزه پدیـدار اسـت نـوروز مبـارک بـاد
ای عقـل امـانم ده دیوانـه و سرمسـتم
امشـب شـب دیـدار اسـت نـوروز مبـارک بـاد
دشـت و دمـن و صـحرا از لالـه چراغـان اسـت
بلبـل بـه چمـن زار اسـت نـوروز مبـارک بـاد
ایـن بـاغ چـه‌خـوش زیباسـت بـا نسـترن و نـرگس
تـا نغمـه آبشـار اسـت نـوروز مبـارک بـاد
ای مـردم بـا همـت! برخیـز و نـوا سـر کـن
دشـمن همـه غـدار اسـت نـوروز مبـارک بـاد

ارسالی: عبدالرشاد

## د پسرلي يادونه

پیرمحمد کاروان

پسـرلیه لـږ خـو راشـه سـتا یادونـه رانـه هیـر شـول
زخمونـه مـی ډیـر ولیـدل ګلونـه رانـه هیـر شـول
د حسـن د ګلونـو سـترګې ډکـې دی لـه اوښـکو
د عشـق د بلبلانـو اوازونـه رانـه هیـر شـول
د ژوبـل زړه پـه وینـو کـې مـې تـږې ارمـان لامبـی
سـاقی نـه پیـژنم ډک جامونـه رانـه هیـر شـول
اغـزو رانـه اخیسـتی دی پـه بـاج کـې لال د وینـو
راځـه د زړه طبیبـه مرهمونـه رانـه هیـر شـول
تیـاری راتـه خـوری دی د هجـران پـه تـور ماښـام کـی
د وصـل هغـه ښـکلی سـهارونه رانـه هیـر شـول
د ژونـد پـه بـاغ او بـڼ کـې د باروتو بـوی خـور شـوی
د ګلـو د عطرونـو کاروانونـه رانـه هیـر شـول
د وریت احساس په غیږ کې مې کاروان د سلګو پروت دې
اشـنا یـه د خنـدا ډک غزلونـه رانـه هیـر شـول

## پوهه

پوهه هغه ونه ده،چې تل مېوه کوي اوخزان نلري.
پوهه هغه څراغ دی،چې همیش رڼا کوی مړا وی کیږې نه .
پوهه هغه شتمني ده،چې خلاصیږې نه .
پوهه هغه ګل دی،چې همیشه تازه وی .
پوهه هغه دولت دی،چې په ورکړه کمیږې نه بلکې زیاتیږې .
پوهه هغه بڼ دی،چې تل مېوه کوي اوټوله مېوه يې خوړه ده .
پوهه هغه قوت دی،چې پاچاهان ورته عاجز دی.
پوهه هغه ښایست دی،چې ښکلا یې په جهان کې نشته .
پوهه د هغه وفادارملګری په شان ده،چې هېڅ بېلتون نلري.
پوهه هغه کلي ده،چې هرقفل خلاصوي .
پوهه هغه صدقه ده،چې وروسته له مرګ څخه هم ثواب لري.
پوهه هغه د شنه آسمان لمردی،چې هېڅ غروب نلري.

رالیږونکی: شبیر

## فصل بلوغ

بهاراز راه میرسد؛ از فراسوی فصل سرد و بارانی؛ ابرهای تیره را از صفحه آسمان می تکاند، پلک می زند و گل های رنگ رنگ از نگاه خاک می روید.

لبخند می زند و درختان به سبزی قیام می کنند؛ عشوه می کند و زمستان، بهار می شود.

این جا، بهار ساکنین خاک را به زندگی می خواند.

بهار، فصل اعتدال و راستی است؛ فصل قد کشیدن گل های ایمان در باغچه دل است.

بهار، قلمرو رویش خوبی هاست و فصل جاری شدن و رسیدن؛ فصلی که غنچه های لب فرو بسته، دهان می گشایند و گل می کنند.

بهار که می آید، کوچه های به بن بست رسیده از سرما، به رقص بر می خیزند و رهگذران را به شوق می آورند.

بهار که می آید، یخ های مکرر زمستانی آب می شود و چشمه چشمه، طراوت بر سنگفرش خیابان ها راه می پوید.

بهار که می آید، دست های سخاوت زمین گل می کند و آسمان، گرمی حیات را مهربان تر از همیشه، در رگ و روح بی جان خاک می پاشد.

بهار که می آید، صدای گام های ظهور، بهتر از هر زمان، گوش را می نوازد.

بهار که می آید، پنجره های بسته رو به آسمان گشوده می شوند. بهار که می آید، زمین، لباس سپید برفی اش را از تن می کشد تا لباس سبز بلوغ بر تن کند.

چه دل انگیز است مژده بهار، آن گاه که هوای سرد، ناجوانمردانه بر شاخ و برگ باغ، تازیانه می کوبد. گاه از این آرزو که کاش چار فصل زمین بهار باشد، پشیمان می شوم و می دانم بی پاییز و زمستان، بهار، رنگ و نمایی ندارد. می دانم اگر آن سفر کرده، از کوچ هزاران ساله برگردد و فصل پنجم رویش را بر خاک بگستراند، بهار حقیقی با همه طراوت و زیبایی اش به جهان لبخند خواهد زد.

ارسالی: مرسل

## مبارک دې نوی کال شه

زرو

مبـارک دې نـوی کـال شـه
حقیقـت دې هـر یـو خیـال شـه
خـدای دې وکـړي هغـه چـارې
چـه زړګـی دې پـرې خوشـحال شـه
مـات زړګـی درتـه دعـا ګـړي
لـوړ دې سـتوری د اقبـال شـه
رقیبـان دې خپـل پـه دام کـې
ګرفتـاره پـه خپـل چـال شـه
چـه پـه بـده درتـه ګـوري
د آفتـو پـه چنګـال شـه
چـه مـین دې پـه رخسـار ګـړم
افـرین دې پـه جمـال شـه
تـه چـه لیـرې لیـرې ګرځـې
لـږ خبـر د زړه پـه حـال شـه
چـه اظهـار د مینـې وکـړې
د چـا چیـرې بیـا مجـال شـه
چـه بـه تـا نـه لاس بـردار شـم
دغـه کـار راتـه محـال شـه
چـه پـه مینـه راتـه ګـورې
زار لـه تـا مـې سـر او مـال شـه
چـه د حسـن نندارې ګـړم
لا ښایسـته دې خـط وخـال شـه
(زرو) خـدای تـه پـه زارۍ دی
چـه نصـیب یـې سـتا وصـال شـه

## تمکین

عشقری

بـه ایـن تمکـین کـه سـاقی بـاده در پیمانـه میریـزد
رسـد تـا دور مـا دیـوار ایـن میخانـه میریـزد
گرفتـی چـون پـی مجنـون ز رسـوایی مـرنج ای دل
کـه دایـم سـنگ طفـلان بـر سـر دیوانـه میریـزد
بیـاد شـمع رخسـار کـه میسـوزد دل زارم
کـه امشـب بـر سـرم از هـر طـرف پروانـه میریـزد
زلیخـا گـر بـرون آرد ز دل آه پشـیمانی
ز پـای یوسـف زنـدانیش زولانـه میریـزد
شـود هـرکس بـه کـوه عشـقبازی پیـرو فرهـاد
بـه روز جانفشـانی خـون خـود مردانـه میریـزد
رسـانی بـر مـن ای مشـاط تـا زنـار خـود سـازم
ز زلـف یـار هـر تـاری کـه وقـت شـانه میریـزد
اگـر سـیم و زر عـالم بـه دسـت عشـقری افتـد
شـب دعـوت بـه پـیش پـای آن جانانـه میریـزد

## بهار از راه میرسد

بهار با همه آن زیبایی ها و دگرگونی ها می آید گویی که هر جایی که می نگری پارچه ای کشیده اند آن هم به رنگ سبز و به رنگ ارغوانی صدای پرندگان مهاجر که بر فراز آسمان آبی بهار پرواز می کنند شنیده می شود و میرسند به منزلگاه اصلیشان ... آری منزلگاه شان همینجاست "بهار" درختان با شاخ و برگهایشان خبر از رسیدن فصل نو می کنند. گل ها با رنگهای زیبایشان جلوه آرایی می کنند. عطر نرگس همه جا پیچیده است و ... اگر عاشق هم نباشی حس می کنی ماهیان درون آب هم بی قرار شده اند و به هر سو میروند. برگی دیگر از دفتر روزگار ورق خورده است. بهار آمده و بهارهای دیگری هم در راه است! ... فقط باید عاشق باشی و عاشقانه زندگی کنی... تا دلت در همه حال بهاری و سبز باشد

ارسالی: ساحل

## غنچه های رویده

سبز شو چون چمن، شکوفا شو چون غنچه های رویده بر درخت، آبی و آرام چون دریایی صاف که ماهی ها زندگی شان را مدیون آنند... آری بهاری شو کینه ها را در زباله دانی ذهنت بریز و فراموشش کن،با خوبی ها قلبت را مزین کن به زبانت قول بده دیگردروغ و غیبت و ناسزا را بروحش وارد نسازی،زندگی زیباست پس زیبایی را باورکن... خدایا درین آخرین روز های سال به من دلی بده تا حرام نیالایم، گوشی بده تا غیر از ندای حق ندای دیگری نشنوم، چشمی بده تا پرده ای داشته باشد و آن گونه که جایز است بنگرد، عقلی بده که هیچ کاری را نسنجیده انجام ندهد. خدایا یاریم کن...

ارسالی: حمید

Weekly Marif Newspaper

Established 2002, Issue No 209, Month March

Ministry of Education Cultural and Social Issue



# د ښځو د نړيوالې ورځې په مناسبت د پوهنې د سرپرست وزير پيغام

د ښځو د نړيوالې ورځې د را رسېدو په مناسبت، چې د مارچ مياشتې له اتمې نېټې سره برابره ده، د افغانستان ټولو پتمنو خويندو په ځانګړې ډول ښځينه ښوونکو او نجونو زده کوونکو ته د زړه له کومې مبارکي وايم.

ښځې د يوې ټولنې نيمه برخه جوړوي او له نارينه وو سره د آزادۍ، پرمختګ او رغونې په برخه کې نه يوازې فعاله ونډه اخلي، بلکې د مشهورو پوهانو او شخصيتونو د پاللو، روزلو او ټولنې ته د هغوی د وړاندې کولو لوی مسووليت هم پر غاړه لري .

ښځه د اسلام په مبارک دين کې لوی او درون مقام لري او د خپل ظهور له پيل څخه يې د هغوی پر ښوونې او روزنې ټينګار کړی. د اسلام مبارک دين جنت د مور تر پښو لاندې ګڼلی او هغو مومنانو ته د جنت زېری ورکړل شوی، چې د خپلو خويندو او لوڼو په روزلو کې فعاله ونډه اخلي .

افغانانو هم په خپله ټولنه کې د ښځې مقام او دريځ ته تل په درنه سترګه کتلې او د اسلام د سپېڅلو ارشاداتو په رڼا کې يې د هغوی د حقوقو پوره درناوی کړی دی.

افغان مېرمنو د نورو انساني ټولنو په څېر د خپلې ټولنې په ترقۍ او پرمختګ کې مهم رول لرلی او کولو او د هېواد په آبادۍ او بيا رغولو کې فعاله ونډه واخلي.

اوسمهال د افغانستان د ۹،۲۴ مېليونه زده کوونکو له ډلې شاوخوا ۴۰ سلنه يې نجونې او د ۲۲۰ زره



ښوونکو له ډلې ۳۲ سلنه مېرمنې دي. ددې ترڅنګ د پوهنې وزارت په ټولو اداري ځانګو کې مېرمنې د پام وړ ونډه لري او هڅه کوي، چې په اداري برخو کې د دوی شتون لا پراخ کړي .

ددې خاورې د بچيانو د روزلو تر ټولو درونده پېټی يې په خپلو ويارمنو اوږو وړی دی.

د افغانستان اساسي قانون د نارينه و په څېر ښځو ته هم په ټولو برخو کې مساوي حقونه ورکړي، چې يو له هغو د زده کړې او کار حق دی.

د افغانستان د پوهنې وزارت له همدې امله هڅه کوي، چې د تعليمي مرکزونو د پراختيا له لارې په مېرمنو کې د سواد کچه لوړه کړي، څو دوی وکولای شي له دې لارې د خپلو حقونو د ترلاسه

يو ځل بيا د ښځو د نړيوالې ورځې د را رسېدو په مناسبت د هېواد ټولو پتمنو خويندو ته مبارکي وايم او هيله من يم، چې هېڅ افغانه نجلۍ له زده کړو او خپلو نورو اساسي حقونو څخه بې برخې پاتې نشي.

# د هلمند په ناوه ولسوالۍ کې ۲ ښوونځيو ته د احاطې ديوالونه جوړېږي

د افغانستان د سوېل لويديځ هلمند ولايت په ناوه ولسوالۍ کې د امام ابوه حنيفه (رح) مدرسې او د خرابه عليا ښوونځي د احاطې ديوالي جوړولو چارې پيل شوې. د دواړو ښوونيزو مرکزونو د احاطې ديوالونه د پوهنې وزارت اړوند د پوهنې لپاره د نړيوال ګډون پروګرام (GPE) لخوا جوړېږي.د امام ابوحنيفه مدرسې ته د ۲۶۰ مترو په اوږدوالي او د خرابه عليا ښوونځي ته د ۱۶۵ مترو په اوږدوالي د احاطې ديوالونه په پاخه او اساسي ډول د روان ۲۰۱۷ کال د جون مياشتې تر پايه جوړېږي، چې لسګونه زده کوونکو ته به د زده کړو خوندي تدريسي چاپېريال رامنځ ته کړي.

قومي مشرانو د پوهنې مسوولينو ته ډاډ ورکړ، چې د پوهنې وزارت له ګټلارې سره سم به د روانو پروژو دقيقه څارنه وکړي او چاته به اجازه ورنکړي، چې د يادو پروژو د کارونو پر وړاندې خنډ وګرځي.د يادونې وړ ده، چې د پوهنې لپاره د نړيوال ګډون پروګرام GPE د هلمند په مارجه، ناوه او ګرمسير ولسواليو کې ۴۰ د احاطې ديوالونو، تشنابونو او څښاک اوبودڅاګانو پروژې لري، چې پر ځينو يې له وړاندې کار پيل شوی او ځينې نورې يې د ژر پيل کېدو په حالت کې دي.

**خليل ستانکزی**

بقیه صفحه اول

## بخش متقاعدین وزارت...

به کارمندان بازنشسته خوانده و سیستم جدید را یک دست آورد خوب و مؤثردر جلوگیری از بیروکراسی و ضیاع وقت که باعث نظم درست اداری و شفافیت نیز میشود دانستند.

آقای ارشد با بیان کارایی این سیستم و توانمندی کارمندان آموزش دیده آن تعهد سپردند که از آن نظارت درست و مستمر داشته تا منتج به موفقیت های این برنامه شود. او همچنان از کارمندان این بخش خواست تا با برخورد درست ږ خدمات شایسته در فراهم کردن سهولت های بیشتر و خوبتر برای مراجعان از هیچ گونه سعی و تلاش دریغ ننمایند . قناعت مراجعان را فراهم سازند.

سیستم جدید تقاعد با هزینه دولتی در حالی فعال گردید که بخش سوانح این وزارت مدت ها قبل دیجیتالی گردیده بود .

بقیه صفحه اول

## دست آورد های...

وزارت معارف جمهوری اسلامی افغانستان در عرصهٔ توسعه و گسترش ارائه خدمات تعلیم و تربیه برای همه و بلند بردن سطح کیفیت تعلیم در مکاتب سراسر کشور دستآورد های قابل ملاحظهء داشته است. در سال ۱۳۹۵ در چهار چوب برنامه های تعلیمات عمومی، تعلیمات اسلامی، انکشاف نصاب تعلیمی و تربیه معلم، تعلیمات تخنیکی و مسلکی، سواد آموزی و ادارۂ معارف دست آورد های چشمگیری داشته است.

به تعداد ۲۵۹,۴۵۱ تن کارمند اعم از معلم، مامور و اجیر در چوکات تشکیلاتی وزارت معارف استخدام گردیده اند که ۳۰ % مجموع کارمندان دولت راتشکیل میدهد.

وزارت معارف با استخدام این تعداد کارمندان علاوه بران که در دوش به دوش هم در فراهم سازی زمینه تعلیم و تربیه خدمات لازم را برای هموطنان عرضه نموده برای همین تعداد فامیلها زمینه بدست آوردن عاید سالم بخاطر امرار معیشت شان فراهم نموده است.

برای میلیون ها فرزند کشور زمینه دسترسی و فراگیری تعلیم و تربیه فراهم گردیده است که شمولیت این تعداد شاگردان در مکاتب علاوه بر کسب سواد، باعث تحکیم ارتباطات جامعه با دولت شده و در تحکیم ثبات و تقویت روند دیموکراسی و اصل مردم سالاری نقش بسزای داشته است. و متضمن آینده درخشان کشور میباشد.

مردم و حکومت افغانستان خواهان یک نظام فراگیر تعلیم و تربیه میباشند تا همه اقشار جامعه بصورت متوازن به آن دسترسی داشته و بتوانند ثبات دایمی و انکشاف اجتماعی کشور را بهبود بخشد، این موضوع مستلزم یک نظام تعلیم و تربیه مسئول، پاسخگو، حسابده، متعهد و نتیجه محور می باشد.

وزارت معارف بصورت جدی کوشیده است تا مسئولیت های خویش را بادر نظر داشت شفافیت وحساب دهی در اجرا و اکمال فعالیت ها، مراقبت و ارزیابی، عملکردها وگزارش دست آوردها که هم برای وزارت و هم برای تمویل کنندگان ضروری پنداشته میشود بر اساس مدیریت و ادارۂ نتیجه محور پیشبرده و وظایف ملی و قانونی خویش را که فراهم نمودن زمینه تعلیم و تربیه برای اولاد وطن میباشد در قبال مردم افغانستان و جامعه جهانی به وجه احسن به انجام رساند تا در نتیجه به "اهداف انکشافی هزاره سوم" و "تعلیم و تربیه برای همه" دست یابی حاصل نماید.

به سلسلۂ عرضۂ خدمات تعلیمی در سال ۱۳۹۵ تعداد شاگردان موجود به سطح تمام برنامه ها به اضافه تر از ۹.۲ میلیون تن رسیده است که ۳۹% آن را شاگردان اناث تشکیل میدهد و در ۱۷۴۸۲باب مکاتب تعلیمات عمومی، مراکز تعلیمات اسلامی و مراکز تعلیمات تخنیکی زمینه دسترسی به تعلیم و تربیه برای شان فراهم گردیده که توسط ۲۲۲,۶۷۳ تن معلم برایشان تدریس صورت گرفته و تحت آموزش قرار داشتند.

برای فراهم نمودن زمینه دسترسی بیشتر به تعلیم و تربیه انعده اطفال خاصتاً دختران که محل سکونت شان دور تر از مکاتب بوده و نمیتوانستند نسبت بعد مسافه به مکتب بروند از طریق ایجاد صنوف محلی برای ۳۸۳,۳۵۱ تن طفل زمینۂ دسترسی به تعلیم و تربیه فراهم گردیده است.

علاوه بر آن ۳۹۱,۶۵۶ تن سواد آموز جوانان و بزرگسالان که سن شان بالاتر از سن مکتب بود در ۱۷,۶۴۳ کورس و ۶۴ باب مکتب سواد آموزی مصروف فراگیری و آموزش سواد بودند تا خواندن و نوشتن را بیاموزند.

همچنان بصورت اوسط اضافه تر از ۳۰۰۰,۰۰۰ سواد آموز سالانه از کورس های سواد آموزی فارغ و سواد ابتدائی (خواندن و نوشتن، حساب کردن ) را آموخته اند.

بقیه در شماره بعدی

مسوول مدير: محمد نسيم "عياذ"

کتنپلاوي: محمد کبير حقمل- معراج زماني- استاد ګل رحمان رحمان عبدالصبور غفراني - محمد اکرم وفادار

خبريال: - محمد اشرف رسولي - غلام سخي محمدي

کمپوز او ډيزاين بريالی رحمانزی

شمېر: ۵۰۰۰

ديجيتل: (۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳)

ايميل: marif.newspaper.moe@gmail.com

پته: دکابل ښار، محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د نشراتو او اطلاعاتو رياست، د پوهنې اوونيزې مديريت